آریانه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

شماره ۱۲۶

د افغانستان اسلامي امارت، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست، د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: جمادي الاول ۲۸مه، کال ۱۴۴۸ هجري قمري

نمایشگاه محصولات زراعتی و مالداری افغانستان برگزار شد



سی‌وپنجمین نمایشگاه محصولات زراعتی و مالداری افغانستان، تحت شعار «زراعت و مالداری پایدار، تولید بیشتر، اقتصاد نیرومندتر» با حضور مقامات امارت اسلامی افغانستان، دیپلوماتان کشورهای خارجی، نمایندگان...

۲

عزیزي گروپ ته د ۳۳۱.۸ مېګاواټه لمریزې بریښنا د تولید په موخه درې جوازونه ورکړل شول

عـــزیـــزي
AZIZI

۵

سرمقاله

د کورني تاوتریخوالي مخنیوی؛ د ښځو د شرعي حقونو د خوندیتوب عملي ګام

کورنۍ د ټولنې د ثبات، سالمې روزنې او ټولنیزې هوسایۍ بنسټ جوړوي. د دې بنسټ پیاوړتیا هغه مهال شونې ده چې د کورنۍ ټول غړي د یو بل حقوق وپېژني، متقابل درناوی ولري او د اسلامي شریعت له لارښوونو سره سم له یو بل سره چلند وکړي. برعکس، کورنی تاوتریخوالی، زورزیاتی او له شرعي حقونو څخه د ښځو محرومول هغه ناوړه کړنې دي چې نه یوازې د کورنۍ فضا زیانمنوي، بلکې د ټولنې پر اخلاقي او ټولنیز جوړښت هم منفي اغېزې کوي.

اسلام د ښځو مقام او حقوق په ځرکنده توګه تاکلي او له هغوی سره یې پر نېک چلند، عدالت او درناوي ټینګار کړی دی. له همدې امله، د ښځو له شرعي حقونو څخه دفاع، د کورنۍ تاوتریخوالي مخنیوی او د کورنیو د ستونزو عادلانه حل یوازې ټولنیز مسئولیت نه، بلکې دیني او اخلاقي مکلفیت هم دی.

په همدې تړاو، د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اوربدلو وزارت د محتسبینو له لورې په کندهار، تخار، میدان وردک، ارزګان او پکتیا ولایتونو...

۲

د پلخمري د ډبرو سکرو او جنګل کلان د طبیعي ګازو د اکتشاف او استخراج ټرون لاسلیک شو



۵

جلسۀ کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین تدویر یافت



۲

آغاز عملی کار پنج پروژه انکشافی توسعه شبکه برق در ولایت خوست



۵

اسلامي امارت او د زیربناوو پراختیا ته پاملرنه

زیربناوې او بنسټیزې چارې د هېوادونو د اقتصادي ودې، ځان‌بسیاینې او دوامدار پرمختګ له اساسي عواملو څخه ګڼل کېږي. اسلامي امارت د دې موضوع اهمیت ته په پام سره، کولای شي د شفافو معلوماتو خپرولو، له رسنیو سره د نښې همغږۍ او خلکو ته په وخت د عامه پوهاوي له لارې د زیربنایي پروګرامونو د پلي کېدو لاسته‌راوړنې، پرمختګونه او رامنځته کېدونکي فرصتونه په ښه توګه معرفي کړي. د پلان شویو پروګرامونو د پلي کولو د مسئولینو، دولتي ادارو، ویاندویانو او رسنیو ترمنځ د منظمې اړیکې رامنځته کول، د عامه باور د پیاوړتیا، د واقعیتونو د انعکاس او د زیربنایي چارو د پلي کېدو له بهیر څخه د خلکو د خبرتیا زمینه برابروي. ځکه پرمختګ یوازې د سړکونو، بندونو، پلونو، تونلونو او عامه‌المنفعه تأسیساتو په جوړولو پورې محدود نه دی؛ بلکې د دغو چارو په اړه اغېزناکه او پر وخت خبرتیا هم د پرمختګ او خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو د بهیر یوه مهمه برخه ده.

مولوي نعیم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

سرمقاله

د کورني تاوتریخوالي مخنیوی؛ د ښځو د شرعي حقونو د خوندیتوب عملي ګام

...کې د ۲۳ مېرمنو د کورنیو ستونزو ته رسېدنه او له تاوتریخوالي څخه د هغوی ژغورل د پام وړ اقدام دی. یادې مېرمنې د خپلو خاوندانو او د کورنیو د ځینو غړو له لوري له ناوړه چلند سره مخ وې، چې د محتسبینو د منځګړیتوب، اصلاحي ناستو او شرعي لارښوونو په پایله کې یې ستونزې هوارې او بېرته له خپلو خاوندانو سره یو خای شوې دي.

د دې اقدام اساسي ارزښت په دې کې دی چې د مېرمنو د شرعي حقونو د تأمین ترڅنګ د کورنیو د ستونزو د حل، د شخړو د مخنیوي او د تفاهم د رامنځته کولو لپاره عملي هڅې شوې دي. په ځانګړې ډول، له اړوندو کورنیو څخه د ناوړه چلند د نه تکرار ژمنې اخیستل د دې څرګندونه کوي چې د ستونزو د حل موخه یوازې د یوې پېښې پای ته رسول نه، بلکې د داسې چلندونو د تکرار مخنیوی او د کورنۍ د سالم چاپېریال رامنځته کول هم دي.

د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې مبارزه هغه مهال دوامداره پایلې لرلای شي چې د ستونزو تر رامنځته کېدو وروسته د رسېدنې ترڅنګ، د مخنیوي لپاره یې هم منظمې هڅې وشي. په دې برخه کې د دیني علماوو، قومي مشرانو، د کورنیو مشرانو او اړوندو امارتي ادارو همغږي مهم رول لري. د ښځو او نارینه‌وو د شرعي مسئولیتونو په اړه عامه پوهاوی، د کورنیو ترمنځ د متقابل درناوي دود پیاوړتیا او د شکایتونو پر وخت او عادلانه ځېرنه کولای شي د دېرو کورنیو شخړو د رامنځته کېدو مخه ونیسي.

په ټوله کې، په پنځو ولایتونو کې د ۲۳ مېرمنو د ستونزو هواری د کورني تاوتریخوالي د مخنیوي او د ښځو د شرعي حقونو د خوندیتوب په برخه کې د عملي پاملرنې یوه بېلکه ده. د دې ډول هڅو دوام، د شکایتونو پر وخت رسېدنه او د کورنیو ترمنځ د اسلامي ارزښتونو او متقابل درناوي پیاوړتیا هغه لارې دي چې په پایله کې یې سالمې کورنۍ، باوري ټولنیزې اړیکې او هوسا ټولنه رامنځته کېدای شي.

ځکه د کورنۍ ریښتینی ثبات په زور او تحمیل نه، بلکې په عدالت، مینه، متقابل درناوي او د هر غړي د شرعي حقونو په تأمین کې نغښتی دی.

هلمند کې ۱٦۵۰ بزګرانو او کرنیزو کورنیو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي...



...د هلمند ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست په هڅو او د همکارو مؤسسو په همکارۍ، د دغه ولایت په بغني او موسی‌کلا ولسوالیو کې ۱۶۵۰ بزګرانو او کرنیزو کورنیو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې وېشل کېږي.

د معلوماتو له مخې، د هلمند د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست په هڅو او د افغانستان لپاره د راتلونکو نسلونو مؤسسې په همکارۍ، د بغني ولسوالۍ له ۵۰۰ بزګرانو سره د کرنیزو مرستو د وېش بېړې بشپړ شوی دی. د یاد بېړې په لړ کې هر مستحق بزګر ته ۵۰ کیلوګرامه د غنمو اصلاح شوي تخمونه، ۵۰ کیلوګرامه شنه سره او ۵۰ کیلوګرامه سپینه سره ورکړل شوې ده.

همدارنګه، د یاد ریاست په هڅو او د «اواچ ډبلیو» مؤسسې په همکارۍ، د موسی‌کلا ولسوالۍ له ۱۱۵۰ بزګرانو او کرنیزو کورنیو سره د ورته مرستو د وېش لړۍ روانه ده، چې له مخې به یې هرې مستحقې کورنۍ ته ۵۰ کیلوګرامه د غنمو اصلاح شوي تخمونه، ۵۰ کیلوګرامه توره سره او ۵۰ کیلوګرامه سپینه سره ووېشل شي. د دغو مرستو موخه د بزګرانو ملاتړ، د کرنیزو فعالیتونو پیاوړتیا، د اصلاح شویو تخمونو د کارونې دودول، د غنمو د حاصلاتو لوړول او د کرنیزو تولیداتو زیاتوالی دی.



جلسۀ کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین...



...جلسۀ کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین، تحت ریاست مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با حضور اعضای کمیسیون متذکره برگزار شد.

در این جلسه، ابتدا معلومات درباره فعالیت های انجام شده کمیته های مربوطه شریک گردید و بعد دربارۀ چگونگی تطبیق اوامر و تصمیمات مربوط به اسکان دایمی مهاجرین، توزیع زمین و فراهم‌سازی زمینه‌های مناسب برای بازگشت‌کنندگان بحث صورت گرفت.

سپس، پیرامون تطبیق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در راستای اعمار مساجد، مدارس، مکاتب و کلینیک‌های صحی در شهرک‌های مهاجرین از طریق ادارات مربوطه بحث‌های همه جانبه انجام شد.

در پایان، اعضای کمیسیون دربارۀ بهبود مدیریت امور مهاجرین و بازگشت‌کنندگان و اتخاذ تدابیر لازم برای رسیدگی بهتر به مشکلات و تسریع توزیع زمین به آنان بحث کردند و بر ایجاد هماهنگی بیشتر میان ادارات مسئول به‌منظور حل مشکلات مهاجرین و فراهم‌سازی زمینۀ اشتغال مناسب برای آنان تأکید نمودند.

نمایشگاه محصولات زراعتی و مالداری افغانستان...



...سکتور خصوصی، دهقانان و مالداران در فارم تحقیقاتی بادام‌باغ کابل برگزار شد.

محترم مولوی عطاالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری در مراسم افتتاح این نمایشگاه، آب، خاک، اقلیم مناسب و ظرفیت انسانی را از امتیازهای بزرگ افغانستان دانسته و تأکید کرد که استفاده مؤثر از این ظرفیت‌ها می‌تواند کشور را به استقلال اقتصادی و خودکفایی غذایی برساند. وی افزود که این وزارت برای معیاری‌سازی محصولات زراعتی و مالداری و گذار از روش‌های سنتی به شیوه‌های عصری تلاش می‌کند. به گفته وی، این نمایشگاه فرصت مناسبی برای معرفی دستاوردها، شناسایی ظرفیت‌ها و ایجاد ارتباط میان سرمایه‌گذاران، تاجران، دهقانان و مالداران است.

در همین حال، محترم مولوی صدراعظم عثمانی معین زراعت و مالداری وزارت زراعت، بر خودکفایی در تولید محصولات داخلی، ایجاد سردخانه‌ها و عصری‌سازی زراعت تأکید کرد. وی تجهیز دهقانان و مالداران با ماشین‌آلات و تکنولوژی مدرن را از نیازهای اساسی این سکتور دانسته و از مؤسسات همکار و نهادهای بین‌المللی خواست تا در راستای پایداری و خودکفایی تولیدکنندگان داخلی همکاری کنند.

همچنان، محترم قاری عبدالستار سعید معاون ریاست دفتر مقام ریاست‌الوزرا، پیام مقام ریاست‌الوزرا را قرائت کرد. در این پیام، زراعت و مالداری از بخش‌های مهم در کاهش فقر و تقویت اقتصاد کشور خوانده شده و بر استفاده مؤثر از منابع طبیعی، توزیع تخم‌های اصلاح‌شده، کنترول آفات و امراض نباتی و بهبود کیفیت محصولات تأکید شده است. همچنان این نمایشگاه فرصت ارزشمندی برای معرفی، ترویج و بازاریابی محصولات داخلی عنوان گردید.

به همین ترتیب، خان‌محمد فروتن رئیس اتاق زراعت و مالداری افغانستان، نیز با اشاره به ظرفیت‌های گسترده کشور در بخش زراعت و مالداری گفت که استفاده از این ظرفیت‌ها می‌تواند افغانستان را از یک کشور وارداتی به کشور صادراتی تبدیل کند. وی از فعالیت‌های این اتاق در بخش‌های کشت نباتات روغنی، پرورش ماهی و مرغ، پرورش گوسفند قره‌قل، تولید پشم و ابریشم، زنبورداری، باغداری و اصلاح خاک یادآوری کرده و بر ادامه همکاری‌ها برای توسعه تولیدات و صادرات تأکید کرد.

همچنان، محترم قاری عبدالولی صدیقی معین وزارت صحت عامه، نیز پیشرفت کشور را در گرو استفاده از تکنولوژی و ماشین‌آلات نوین دانسته و گفت که تأمین صحت جامعه با توسعه زراعت و مالداری معیاری ارتباط مستقیم دارد.

مولوی شیرمحمد حاتمی رئیس اطلاعات، آگاهی عامه و سخنگوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، هدف از برگزاری این نمایشگاه را بازاریابی و معرفی محصولات زراعتی و مالداری، حمایت از دهقانان و مالداران، افزایش تولیدات داخلی، کاهش وابستگی به واردات، توسعه صادرات و تقویت هماهنگی میان تولیدکنندگان و سکتور خصوصی عنوان کرد.









Issue #126

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

Deputy Prime Minister Meets with CEO of Azizi Group



The Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, met with Mirwais Azizi, CEO of Azizi Group, and his accompanying delegation.
During the meeting, comprehensive discussions were held on the projects initiated and those planned by Azizi Group in Afghanistan.
In his remarks, Mirwais Azizi stated that the group is committed to implementing various projects in Afghanistan, including gas and coal extraction and electricity generation. He added that work is currently underway on solar power generation projects in Ghazni, as well as in Naghlu and Barik Ab in Kabul.
Subsequently, the Deputy PM for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, described Azizi Group's investment and the launch of economic projects in Afghanistan as an important step.
He stated that the implementation of these projects would pave the way for economic development and help reduce unemployment across the country.
He also called on the relevant ministries and institutions to extend their full cooperation to the Azizi Group in implementing these projects.
Following the meeting, in the presence of the Deputy PM for Economic Affairs, agreements were signed at the Government Media and Information Center between the Ministry of Mines and Petroleum, the General Directorate of State-Owned Enterprises, and Azizi Group for the extraction of natural gas in Jangal Kalan, Jawzjan Province, and coal extraction and energy generation in Pul-e-Khumri, Baghlan Province.
The objectives of these projects are to increase domestic electricity generation,...ContP#4

Coordination Meeting Held on Economic Cooperation with the Russian Federation



A coordination meeting on economic cooperation with the Russian Federation was held, at the Marmarin Palace, chaired by the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund.
During the meeting, the Ministry of Finance presented a report on the latest meeting of the Joint Economic Commission with Russia.
The report stated that a work plan for advancing the commission's activities had been prepared and submitted to the Office of the Supreme Leader of the Islamic Emirate for finalization.
Furthermore, a document on economic cooperation with the Russian side, prepared on the sidelines of the recent Kazan Forum in Tatarstan, has been finalized and is expected to be signed with the Russian Federation in the near future.
The meeting also discussed the implementation of the decisions made during the latest meeting of the Joint Economic Commission with Russia, as well as existing investment opportunities and priorities in infrastructure, trade, electricity, transportation, mining, higher education, agriculture, irrigation and livestock, healthcare and pharmaceuticals, commercial visas, telecommunications, information technology, and several other sectors. Relevant opportunities and priorities were identified.

Construction Begins on Five Electricity Network Expansion Projects in Khost



As part of ongoing efforts to provide public services to citizens, Da Afghanistan Breshna Sherkat has begun construction work on five electricity network expansion projects in the provincial capital and several districts of Khost province.
The projects include the expansion of the 20-kilovolt electricity network in the villages of Matun and Mangal Kot in Khost, the villages of Zani Khel and Daki in Nader Shah Kot district, and as well as Sabari district...ContP#4

Azizi Group Granted Three Licenses to Generate 331.8 Megawatts of Solar Power

The Ministry of Water and Energy has granted Azizi Group three licenses to implement solar power generation projects with a combined capacity of 331.8 megawatts.
The licenses cover three projects: a 100-megawatt solar power generation project in the Naghlu area of Kabul province, a 131-megawatt project in Ghazni province and a 100.8-megawatt solar power generation project in the Barikab area of Parwan province.
The licenses were handed over during a meeting by Mullah Abdul Hadi Yaqub, Deputy Minister for Energy at the Ministry of Water and Energy, to Amanullah Ghalib, Deputy Head of Azizi Group...ContP#4

Five Women's Inheritance Cases Resolved in Faryab; Women's Sharia Rights Secured

Officials of the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, as part of their ongoing efforts to address public complaints, have resolved five cases concerning women's inheritance rights in the provincial capital and the districts of Pashtunkot and Dawlatabad in Faryab province.
The cases were settled through mediation, Sharia guidance and mutual understanding.
Local officials of the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling in Faryab province said the cases were resolved after the parties involved referred to the relevant provincial and district offices. Through the mediation of the ministry's inspectors, the disputes were settled by providing advice and Sharia guidance, and the affected women obtained their Sharia-entitled inheritance rights.
During separate meetings with the parties involved, ministry officials emphasized that observing Sharia rulings and guidelines in the distribution of inheritance plays an important role in preventing family disputes. They stressed that every heir is obligated to respect the Sharia rights of other heirs, particularly women, and refrain from depriving them of their rights.
It is worth noting that officials of the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling in Faryab province have also addressed dozens of inheritance-related cases in the provincial capital and districts over the past month.

Deputy Prime Minister Meets with CEO of Azizi...



...strengthen energy security, and support economic growth. It is worth noting that each project has been designed to generate approximately 1,000 megawatts of electricity, with the agreements signed for a period of 30 years. Both projects are expected to create employment opportunities for approximately 5,000 citizens, directly and indirectly.

Improved Seeds and Chemical Fertilizers Distributed to 1,650 Farmers and Agricultural Households in Helmand

Through the efforts of the Helmand Directorate of Agriculture, Irrigation and Livestock and in cooperation with partner organizations, improved wheat seeds and chemical fertilizers are being distributed to 1,650 farmers and agricultural households in Baghran and Musa Qala districts of the province.
According to the information, the distribution of agricultural assistance to 500 farmers in Baghran district has been completed through the efforts of the Helmand Directorate of Agriculture, Irrigation and Livestock and in cooperation with the Future Generations of Afghanistan organization.
Under this program, each eligible farmer received 50 kilograms of improved wheat seeds, 50 kilograms of green and 50 kilograms of white fertilizers.
Similarly, through the efforts of the directorate and in cooperation with the partner organization, the distribution of similar assistance to 1,150 farmers and agricultural households in Musa Qala district is currently underway.
Under this program, each eligible household will receive 50 kilograms of improved wheat seeds, 50 kilograms of black and 50 kilograms of white fertilizers.
The assistance aims to support farmers, strengthen agricultural activities, promote the use of improved seeds, increase wheat yields and boost agricultural production.

Azizi Group Granted Three Licenses to Generate 331.8 Megawatts...

...In addition to the issuance of the licenses, the meeting discussed accelerating the implementation of energy projects through the company's investment, coordinating relevant activities and strengthening joint cooperation in this sector. Views were also exchanged on these matters.
The implementation of these projects will play an important role in expanding the country's solar power generation capacity, making effective use of domestic energy resources and meeting electricity demands.

Construction Begins on Five Electricity Network Expansion Projects...

...The total cost of these projects amounts to AFN 377 million. Upon completion, more than 7,000 households will benefit from electricity services. In addition to residential areas, the electricity needs of commercial and industrial sectors will also be met.
Da Afghanistan Breshna Sherkat remains committed to the balanced expansion of electricity networks across the country and continues its efforts to achieve the broader goal of providing electricity to all citizens and completing the national electricity grid.

Two Major Electricity Projects Inaugurated in Nangarhar

Two major projects aimed at expanding electricity supply and upgrading the power network have been officially inaugurated in Nangarhar province.
As part of ongoing efforts to expand the country's electricity networks and implement comprehensive improvements, the leadership of Da Afghanistan Breshna Sherkat inaugurated a project to upgrade and strengthen the electricity network serving 11,000 customers in the sixth district of Jalalabad city, as well as an electricity supply project for 3,400 households in Surkh Rod district.
Speaking at the inauguration ceremonies, Mawlawi Ahmad Jan Bilal, Director General of State-Owned Enterprises, praised all development projects aimed at ensuring reliable electricity services for the people of Nangarhar. He said that the completion of ongoing projects would resolve many of the problems caused by electricity shortages.
In addition, Mullah Abdulhaq Hamkar, Chief Executive Officer of Da Afghanistan Breshna Sherkat, reaffirmed the company's commitment to expanding electricity networks across the country in a balanced manner. He also called on industrialists, residential consumers and commercial customers to fully cooperate with the electricity company by paying their electricity bills on time.
Mawlawi Hazrat Jan Hanafi, Head of the Nangarhar Ulema Council, said that projects to expand electricity services for the people of Nangarhar would contribute to overall public welfare and help address electricity shortages. Similarly, Mawlawi Samiullah Samoon, a representative and adviser to the Nangarhar Provincial Governor's Office, described electricity expansion and network improvement projects as an effective measure to prevent problems arising from additional pressure on Nangarhar's electricity network due to the return of refugees.
Engineer Safiullah Ahmadzai, Operational Director of Da Afghanistan Breshna Sherkat, described completed and ongoing projects in Nangarhar as important for strengthening electricity services and improving public welfare. He said these projects would address all existing challenges.
Sayed Ghairat Rustamkhel, a tribal representative from Surkh Rod district, and Tor Malang, a representative of the Industrialists Association, expressed their appreciation for the cooperation of Da Afghanistan Breshna Sherkat and voiced hope that the development projects would help resolve existing problems soon.
Da Afghanistan Breshna Sherkat continues to demonstrate its commitment to serving the public through the balanced inauguration of development projects and the launch of new initiatives across the country.

د پلخمري د ډبرو سکرو او جنګل کلان د طبیعي ګازو د اکتشاف او استخراج تړون...



...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د امارتي شرکتونو عمومي رئیس مولوي احمدجان بلال، د عزیزي ګروپ عمومي رئیس میرویس عزیزي او د اسلامي امارت یو شمېر مسؤلینو په حضور کې د پلخمري د ډبرو سکرو او جنګل کلان د طبیعي ګازو ساحو د اکتشاف، استخراج او پراختیا تړون له عزیزي ګروپ سره لاسلیک شو.

د یاد تړون له مخې، د آمو سیند د نفتي او ګازي حوزې اړوند د جنګل کلان د طبیعي ګازو پروژه چې څه باندې درې زره کیلومتره مربع مساحت لري، د ۳۰ کلونو لپاره به د عزیزي ګروپ له لوري پکې د اکتشاف او استخراج چارې ترسره شي.

د معلوماتو له مخې، په دې پروژه کې به ۲۷۵ میلیونه امریکایي ډالر پانګونه وشي او د اسلامي امارت وندې به د ۱۵ سلنه حق‌الامتیاز ترڅنګ، د استخراج شویو ګازو ۷۰ سلنه وي.

د دې پروژې یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې قراردادي شرکت به د طبیعي ګازو له استخراج وروسته د هغو په وسیله د ۱۰۰۰ مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لرونکی تأسیسات جوړ کړي، چې په دې سره به د هېواد د انرژۍ د تولید ظرفیت لوړ او د برېښنا د ځان‌بسیاینې په برخه کې به د پام وړ پرمختګ رامنځته شي.

همدارنګه، د پروژې په پلي کېدو سره به شاوخوا دوه زره کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

د کانونو او پټرولیم وزارت مسئولینو ویلي چې د یادې پروژې ټولې چارې به د لاسلیک شوي تړون، نافذه قوانینو، تخنیکي معیارونو او چاپېریالي اصولو په رنا کې په جدي توګه وڅاري، څو د هېواد عامه ګټې خوندي او له طبیعي زېرمو څخه اغېزناکه ګټه واخیستل شي.

د کانونو او پټرولیم وزارت له قراردادي شرکت څخه هم غوښتنه کړې چې د تړون ټولې ژمنې او مکلفیتونه په ټاکلي وخت او د منل شویو تخنیکي او مسلکي معیارونو له مخې عملي کړي.

تمه ده چې د دې پروژې په پلي کېدو سره به د هېواد د طبیعي زېرمو د مدیریت، اقتصادي ودې، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو او د انرژۍ د تولید په برخه کې مهم بدلونونه رامنځته شي او د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او انرژۍ د ځان‌بسیاینې ښېر لا پیاوړی شي.

د صنعت‌کارانو د برېښنا ستونزو ته د رسېدنې په موخه د برېښنا شرکت او صنعت‌کارانو...

...ناسته کې صنعت کارانو د کاري ساعتونو پر مهال دوی ته د منظمې برېښنا ورکړې، له پرچاویو وړاندې خبراوی، نویو فابریکو ته د برېښنا ورکړه کې همکاري او د عملیاتي ریاست له لوري د فابریکو له نړېدې کتنې او ارزونې په ګډون خپل یو شمېر وړاندیزونه له عملیاتي او تجارتي رئیسانو سره شریک کړل، چې د مسئولینو له لوري امکاناتو ته په کتو ډاډ ورکړل شو. د عملیاتي او تجارتي ریاستونو رئیسانو له لوري د افغانستان برېښنا شرکت پالیسي سره سم د برېښنا تعرفو تنظیم او وېش په اړه دوی ته لازمې سپارښتنې وشوې او اړوند اړخونه ورته روښانه شول، تر څو یې له مخې په ځانګړو شویو تعرفو د خپلو لګښتونو پیسې پر وخت تحویل کړي. د ناستې پای کې د تجارتي رئیس له لوري پر ټولو صنعت کارانو د برېښنا لګښت پیسو پر وخت تحویلولو ټینګار هم وشو. صنعت کارانو ژمنه وکړه چې د افغانستان برېښنا شرکت ملاتړ به کوي او خپلې پیسې به پر وخت تحویلوي.

ننګرهار کې د برېښنا رسونې او شبکې بدلون دوې لویې پروژې ګټې اخېستنې...



...محترم الحاج ملا عبدالحق همکار بیا خپلې وینا کې په متوازن ډول د برېښنا شبکو پراختیا ډاډ ورکړو او د پرصنعت کارانو، هستوګنیزو او تجارتي پېرودونکو پې غږ وکړ چې د برېښنا لګښت پیسو پر وخت تحویلولو کې له برېښنا شرکت سره بشپړه همکاري وکړي.

د ننګرهار د علماوو شورا رئیس محترم الحاج مولوي حضرت جان حنفي وویل چې د ننګرهار ولسونو لپاره د برېښنا خدماتو پراختیا پروژې به ټولیزه هوساینه رامنځته کړي او د برېښنا کمښت ستونزې به ورسره حل شي.

دغه راز د ننګرهار ولایت مقام استازي او سلاکار مولوي سمیع الله سمون د کډوالو راستنیدو له امله د ننګرهار پر برېښنا شبکې فشار راتللو ستونزې مخنیوي لپاره د برېښنا پراختیایي او اصلاح پروژې غوره ملاتړ وبالله.

د افغانستان برېښنا شرکت عملیاتي رئیس انجنیر صفي الله احمدزي ننګرهار کې بشپړې شوې او تر کار لاندې پروژې د برېښنا خدماتو پیاوړتیا او عامه هوساینې لپاره مهمې وبللې چې په وینا یې ټولو ستونزو ته به ځواب ووایي.

د سرخ رود ولسوالۍ قومي استازی سید غیرت رستم‌خیل او د صنعت کارانو ټولنې استازي حاجي تور ملنګ د افغانستان برېښنا شرکت له همکاریو مننه وکړه او هیله یې وښوده چې پراختیایي پروژو سره به شته ستونزې ژر حل شي.

د افغانستان برېښنا شرکت رهبري په متوازن ډول هېواد کې د پراختیایي پروژو کټې اخېستنې او چارو پیل سره ولس ته خپله ژمنتیا ثابتوي.

د ۵۳۰ زره ډالرو په ارزښت د ماین پاکۍ تړون؛ په درېیو ولایتونو کې له ۷٦۵ زره متره مربع څخه زیاته ساحه پاکېږي

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس قاري نورالدین رستم‌خېل په شتون کې د اومر ماین پاکۍ مؤسسې له رئیس فضل کریم فضل سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه پې ورسره لاسلیک کړه.

په دې لیدنه کې محترم ترابي وویل، مورږ هوډ لرو چې د خپلو کاري تکلارو په کارولو سره په افغانستان کې د ماین پاکۍ بېړ چټک او هېواد د دې خطرناکې پدیدې له شتون څخه پاک کړو. نوموړي هیله څرګنده کړه چې د ماین پاکۍ مؤسسه دې هم په دې برخه کې لازمه همکاري وکړي او خپلې پروژې به د ککړو سیمو له کچې او اړتیاوو سره سمې پلې کړي.

په مقابل کې، د اومر ماین پاکۍ مؤسسې رئیس هم د محترم ترابي د خبرو په تأیید سره د هر ډول اړینې همکارۍ چمتووالی څرګند کړ او وې ویل چې تر لاس لاندې پروژه به د اصولو له مخې په چټک او شفاف ډول پلې کړي.

د یادونې وړ ده چې په پای کې دواړو لورو د ۵۳۰ زره ډالرو په ټولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک کړ، چې له مخې به یې یاده مؤسسه د سرپل ولایت په ګوسفندي او سوزمه‌قلعه ولسوالیو، د فاریاب ولایت په کوهستان، ګرزیوان، شیرین‌تکاب او پشتونکوټ ولسوالیو او د بغلان ولایت په پلحصار ولسوالۍ کې ۷۶۵،۶۵۸ مترې مربع ساحه د ماینونو او ناچاوده توکو له شتون څخه پاکه کړي.

همدارنګه، په بلخ، سرپل، فاریاب او بغلان ولایتونو کې به ۲۴،۲۰۰ تنو ته د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو په اړه عامه پوهاوی ورکړي.

عزیزي ګروپ ته د ۳۳۱.۸ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید په موخه درې جوازونه...

...د اوبو او انرژۍ وزارت د لمریزې برېښنا د تولید په برخه کې د ۳۳۱.۸ مېګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لرونکو درېیو پروژو د پلي کولو جوازونه عزیزي ګروپ شرکت ته ورکړل.

په دغو جوازونو کې د کابل ولایت په نغلو سیمه کې د ۱۰۰ مېګاواټه، د غزني ولایت په مربوطاتو کې د ۱۳۱ مېګاواټه او د پروان ولایت په باریکاب سیمه کې د ۱۰۰.۸ مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې شاملې دي.

یاد جوازونه د یوې ناستې په ترڅ کې د اوبو او انرژۍ وزارت د انرژۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالهادي یعقوب له لوري د عزیزي ګروپ شرکت مرستیال، ښاغلي امان‌الله غالب ته وسپارل شول.

په دې ناسته کې د جوازونو د ورکړې ترڅنګ، د یاد شرکت د پانګونې له لارې د انرژۍ پروژو د پلي کېدو ښېر د چټکتیا، د اړوندو چارو د همغږۍ او په دې برخه کې د ګډو همکاریو د پیاوړتیا په اړه هم بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

د دغو پروژو پلي کېدل به د هېواد د لمریزې برېښنا د تولید ظرفیت په پراختیا، د کورنیو انرژۍ سرچینو په اغېزناکه ګټه اخیستنه او د برېښنا د اړتیاوو په پوره کولو کې مهم رول ولوبوي.

آغاز عملی کار پنج پروژه انکشافی توسعه شبکه برق در ولایت...



...در ادامه روند تأمین خدمات عامه برای شهروندان، کار عملی پنج پروژه توسعه شبکه برق از سوی د افغانستان برشنا شرکت در مرکز و شماری از ولسوالی‌های ولایت خوست آغاز شد.

این پروژه‌ها شامل توسعه شبکه برق ۲۰ کیلوولت در قریه‌های متون و منگل‌کوت مرکز خوست، قریه‌های زنی‌خیل و داخی ولسوالی نادرشاه‌کوت و ولسوالی صبری می‌باشد.

هزینه مجموعی این پروژه‌ها ۳۷۷ میلیون افغانی است که با تکمیل آن، بیش از ۷ هزار خانواده از نعمت برق مستفید خواهند شد. افزون بر بخش‌های مسکونی، برق مورد نیاز بخش‌های تجارتی و صنعتی نیز تأمین خواهد گردید.

د افغانستان برشنا شرکت به توسعه متوازن شبکه‌های برق در سراسر کشور متعهد بوده و برای تحقق هدف بزرگ برق‌رسانی به تمام شهروندان و تکمیل شبکه ملی برق تلاش می‌کند.

رسیدگی به پنج قضیه میراث زنان در فاریاب؛ حقوق...

...در بخش میراث دست یافته‌اند.

منسوبین این وزارت در نشست‌های جداگانه با طرف‌های قضایا تأکید نمودند که رعایت احکام و هدایات شرعی در تقسیم میراث، نقش مهمی در جلوگیری از اختلافات خانوادگی داشته و هر وارث مکلف است حقوق شرعی سایر ورثه، به‌ویژه زنان را رعایت نموده و از تضییع حقوق آنان خودداری نمایند.

قابل یادآوری است که منسوبین وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات در ولایت فاریاب، طی یک ماه گذشته نیز به ده‌ها قضیه میراثی در مرکز و ولسوالی‌های هژده‌گانه این ولایت رسیدگی نموده‌اند.

ارګ نامه

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د صنعت کارانو د برېښنا ستونزو ته د رسېدنې په موخه د برېښنا شرکت او صنعت کارانو ګډه ناسته وشوه

د افغانستان برېښنا شرکت تجارتي رئیس مفتي امیرعبدالله جهاند او د عملیاتي رئیس انجنیر صفي الله احمدزي په مشرۍ د کابل صنعت کارانو ټولنې مرستیال حاجي ظریف ګل ځدرانِ او لسګونو صنعت کارانو سره ګډه ناسته وشوه...

۵

میدان وردګو کې د اوبو رسولو او زېرمه کولو دوو پروژو چارې پیل شوې



د میدان وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په اونۍ دره کې د ۱۶.۲ میلیونه افغانیو په ټولیز لګښت د اوبو رسولو او زېرمه کولو دوو پراختیایي پروژو د جوړولو چارې پیل شوې.

په دغو پروژو کې یوه د اوبو رسولو پروژه ده، چې د ۸.۲ میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي او په بشپړېدو سره به یې ۵۴۰ کورنۍ د ځښاک له پاکو اوبو برخمنې شي.

همدارنګه، د څه باندې ۸ میلیونه افغانیو په لګښت به یو چکدیم هم جوړ شي، چې د اوبو د راټولولو او زېرمه کولو په برخه کې به مهم رول ولوبوي.

یادې پروژې د میدان وردګو ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست له لورې، د نارویِ د NCA مؤسسې په همکارۍ پلي کېږي. د دغو پروژو په بشپړېدو سره به د سیمې اوسېدونکو ته د ځښاک پاکو اوبو ته د لاسرسي زمینه برابره شي او د اوبو د مدیریت، راټولولو او زېرمه کولو په برخه کې به هم اسانتیاوې رامنځته شي.

منبع: باختر آژانس

هلمند کې ۱٦۵۰ بزګرانو او کرنیزو کورنیو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې ووېشل شوې



۲

له روسیې فدراسیون سره د اقتصادي همکاریو په اړه د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ، له روسیې فدراسیون سره د اقتصادي همکاریو په اړه د همغږۍ غونډه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوه.

په دغه غونډه کې د مالیې وزارت له لورې له روسیې سره د ګډ اقتصادي کمېسیون د وروستۍ غونډې راپور وړاندې شو. راپور کې ویل شوي چې د دې کمیسیون لپاره د کارونو د پرمخ وړلو طرحه چمتو شوې او د نهایي کېدو په موخه د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دفتر ته استول شوې ده.

دغه راز، په تاتارستان کې د کازان د وروستي فورم په څنډه کې له روسي لورې سره د اقتصادي همکاریو په برخه کې چمتو شوی سند نهایي شوی او په نږدې راتلونکي کې به له روسیې فدراسیون سره لاسلیک شي.

په غونډه کې له روسیې سره د ګډ اقتصادي کمېسیون د وروستۍ غونډې د پرېکړو پر عملي کېدو او د زیربناوو، سوداګرۍ، برېښنا، ترانسپورټ، کانونو، لوړو زده کړو، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، روغتیا او درملو، سوداګریزو ویزو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او ځینو نورو سکټورونو کې د پانګونې له پاره د شته فرصتونو او لومړیتوبو په اړه بحث وشو او فرصتونه او لومړیتوبونه په ګوته شول.

ننګرهار کې د برېښنا رسونې او شبکې بدلون دوې لویې پروژې ګټې اخېستنې ته وسپارل شوې



هېواد کې د شبکو پراختیا او پراخ بنسټه اصلاح په دوام، د افغانستان برېښنا شرکت رهبرۍ له لورې د جلال آباد شپږمې ناحیې ۱۱زره برېښنا پرېږدونکو شبکې بدلون او پیاوړتیا او سرخ رود ولسوالۍ ۳۴۰۰ کورنیو ته د برېښنا رسونې پروژه ګټې اخېستنې ته وسپارل شوه.

ددې لویو پروژو ګټې اخېستنې مراسمو کې د امارتي شرکتونو لوی رئیس محترم مولوي احمد جان بلال د ننګرهار ولسونو لپاره د ډاډمنې برېښنا خدماتو تأمین لپاره د ټولو پراختیایي پروژو ستاینه وکړه، چې په وینا یې تر کار لاندې پروژو بشپړېدو سره به د برېښنا کمښت ګټې ستونزې حل شي.

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس...

۵

رسیدگی به پنج قضیه میراث زنان در فاریاب؛ حقوق شرعی زنان تأمین شد



منسوبین وزارت امر بالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، در ادامه فعالیت‌های خویش در زمینه رسیدگی به شکایات مردمی، به پنج قضیه میراث زنان در مرکز و ولسوالی‌های پشتونکوت و دولت‌آباد ولایت فاریاب رسیدگی نموده و این قضایا را از طریق میانجی‌گری، رهنمودهای شرعی و تفاهم متقابل حل‌وفصل کردند.

مسئولان محلی وزارت امر بالمعروف، در ولایت فاریاب می‌گویند که قضایای یادشده پس از مراجعه طرفین به ریاست و آمریت‌های مربوطه و با میانجی‌گری محتسبین، از طریق ارائه نصایح و رهنمودهای شرعی حل گردیده و زنان متضرر به حقوق شرعی خویش...

۵